# THE TECHNICAL FEATURES OF GUL PACHA OLFAT'S PROSE

## دګل پاچا الفت  د نثر فني خصوصیات

[1]Babrak Miakhil

ABSTRACT

There are different characteristics of Ulfat prose work. His prose is melodious as well as fluent. In addition to this, his prose work is well organized and reflects softness and mildness. Also, the artistic value is extraordinary and interesting. His prose diction incorporates strong logic in itself.

On the whole, if we look at the prose works one can find it that it full of rational advices and suggestions. More than that, his each and every word, clause, sentence and paragraph conveys a vast and comprehensive message as well as meaning to its readers. His arts of providing a high logic and satisfaction in his prose works is matchless and outstanding. He has paid a lot attention to all weak sides of society in his literary works.

He might hardly have written any book which doesn't reflect strong logic and understandable language for the readers. He has paid proper attention to all social weaknesses and phenomena and then he has depicted all those weaknesses in a nice way. So it is the reason that his readers have become more interested to read and study his literary prose works.

The prose work of Gul pacha Ulfat consists of two parts which are matter as well as manner. The content of his literary works greatly talks about the miseries, social issues of his nation and also provide the readers with guidance and solutions to get rid of these problems. It is important to mention that Ustad Ulfat always tries to put his nation on the right path towards the right destination and this was the reason that he always was engaged reaching this goal.

Key words : Pashto, prose Explanation , Explicitly , Critical

Pukhtunkhwa Journal

[1] PhD Scholar at Pashtu Department, University of Peshawar

## پاچا الفت د نثر فني خصوصيات:

د استاد ګل پاچا الفت نثر بيلابيل خصوصيات لري، دده نثر ډير خوږ دے، رواني او سلاست لري ترڅنګ يې زياتي باريکی او ښه ظرافت پکښي ليدل کيږي، همدارنګه د نثر هنري اړخ يې ډير لوړ او په زړه پورې دے. د الفت د نثر ژبه مستدلله ده او په خورا لوړ منطق او لاجک ولاړه ده په توله کښي که د الفت صيب نثر ته پام وکړو، دده نثر له حکيمانه خبرو ډک دے او هره کلمه، جمله او پراګراف يې يو پراخه مفهوم افاده کوي، د مفاهيمو په وړاندي کولو کښي له خورا لوړ منطق نه کار اخلي چي دا منطق د لوستونکي د قناعت او باور سبب ګرځي. دده هر نثر د پيغام له خوږو ډک دے، ده به ډيرې کمي کرښي کارولي وي چي ټولنيز منطق پکښي کمزوري او مطلب ترې په اسانی نه شي لاس ته راتلي، دے د ټولني هرې نيمګړتيا او هر پديدې ته متوجي شوے دے او هغه نيمګړتيا يې په دومره خوږو الفاظو کښي راخيستي چي لوستونکي يې د ځآن ملګري کړے دے، همدا ټکي دي چي دده نثر ته يې خاصه ښکلا وربخښلي ده.

د ګل پاچا الفت نثر که موږ په دوو برخو وويشو، يو د هغه د نثر منځپانګيزه يا محتوايي برخه ده او بل د هغه د نثر شکلي برخه ده، د هغه د شعر محتوا تر ډيره د هغه د ټولني په دردونو، کړاوونو، خپل ولس ته په لاربښوونو او نورو بيلابيلو برخو راڅرخي، د خپل نثر په محتوا کښي الفت صيب خپل درد وړاندې کوي او دا خبره کوي چي هغه احساس ورسره ملګري دے چي خوب او ارام ته يې نه پريږدي، دے د يو ماهر طبيب په توګه د خپلي ټولني يو عجيبه تصوير وړاندي کوي، دے د خپلي ټولني په دې تصوير کښي داسي محتوا وړاندې کوي چي ريښتيا هم اجتماع يې له همدغسي يو فکر پلوي ده، چي شپونکي او قصاب ته په يو نظر ګوري .

د الفت صيب دا فکر زمونږ د اجتماع د نن او پرون تصوير دے، دلته لا دا قوم په دې نه پوهيږي چي قاتل يې څوک دے ؟ او پرورش يې څوک کوي؟

اوس که د الفت صيب دې فکر ته ځير شو، نو ويلي شو چي الفت خپله ټولنه ډيره ښه درک کړې په نبض يې پوهيږي، ددې ټولني ښه او بد ورته معلوم دي او پخپلو ډيرو حکيمانه نثرونو کښي د دې قوم د بد حال تصوير ويستلي دے .

الفت د خپلو نثرونو محتوا او شکل کله داسي هم وړاندې کوي چي سرے په کښي سر ګومه شي او نه پوهيږي چي کومه خوا يې ډيره درنه ده، الفت د ابتکار پلوي دے او ابتذال د شاعر او د ليکوال مرګ بولي، دے همدارنګه د فکري ازادئ سره خوښ دے او هيڅ قيودات په ځان نه مني، دے وايي چي : ((څومره چي يو شاعر او ليکوال ازاد فکر کولي شي او له ذهني اسارت نه خلاص وي، همغومره يې انشا هم له تقليد او ابتذال څخه ليرې وي )).١

ده د خپل نثر محتوا په داسي شکل جوړه کړې چي د ټولني د هر قشر تصوير يې په کښي وړاندي کړے دے او دده په شعر او شاعرئ او نثر کښي د ټولني د هرې برخي شننه، تحليل او تعريف شته، دے د نورو ليکوالو په څېر په سطحي مسايلو کښي نه دے ښکيل بلکي، دومره عميق او ژور مسايل څيړي چي کله ورته د چا پام هم نه وي او که څيني دراک انسان يې درک کړي نو به ورته پته ولګي چي الفت څومره عميق دے او د ټولني عمق ته ښکته شوے دے، همدا وجه ده چي د الفت نثر د ټولني ژورو ته ښکته شوے، زړه راښکون يې پيدا کړے او تل پاتي والي لري، د الفت د نثر په ايينه کښي د انساني اجتماع هر فرد او وګړے پخپل خاص کيفيت او کړنو ځان مشاهده کوي، دا به ډيره شازه او نادره خبره وي چي ګوندي ځان دې د الفت په شعر او شاعرئ کښي ونه ګوري، دے په هر څه کښي يو قوي استدلال وړاندي کوي او هغه استدلال د طبيعت يوه ښکلي نمونه وي، دے په دغه استدلال کښي يو خاص فلسفي فکر ور ځايوي، خپل ترميماتي تنقيد په کښي کوي، مينه په کښي په داسي انداز کښي ورځايوي چي د اجتماع هر کس په کښي ځان وګوري، د اجتماعي فکر لاره يې په کښي هواره کړي، د نفس د پاکوالي لاره چاره يې پکښي ښودلي او د انساني روح قوت په کښي له ورايه ښکاري، که هر څوک د الفت د نثر په باب خپل خپل نظريات وړکوي چي څيني نظريات موږ هم پخپل دې اثر کښي راخيستي، دے لکه څنګه چي د عملي هنري نثر استاد ليکوال نو همدارنګه د يوې ښي انشا لپاره څيني توکي په ګوته کوي په دغو توکو کښي يو هم وضاحت دے .

**وضاحت:**

د الفت صيب وينا دومره واضحه ده چي لوستونکي د ابهام په تيارو کښي نه غورځوي، چي دا د ليکوال لويه کاميابي په ګوته کوي، ځکه واضح الفاظ د پيغام په انتقال کښي ښه رول لري، همدارنګه صراحت هم د الفت صيب د نثر يوه اهمه برخه ده او د الفت صيب نثر دا خصوصيات لري .

**صراحت:**

د صراحت يا صريحي وينا يو خصوصيت دا دے چي الفاظ له مقصودو معنو سره مناسبت پيدا کړي، بل هم ضبط دے.

**ضبط:**

د ضبط مفهوم دا دے چي په کلام کښي بې ضرورته برخي او الفاظ نه وي

**طبعيت يا طبيعي والي:**

الفت په خپل کلام کښي له تکلف څخه کار نه اخلي او په ډير روان او سليس انداز لوستونکو ته خپل معلومات په مخکښي ږدي .

همدارنګه **سهولت**: هغه څه دي چې ليکوال په خپل کلام دومره برلاسي وي چې په ډيري اسانۍ سره خپل مفهوم تر نورو ولېږدوي .

**انسجام:**

د الفت د نثر يو بل توکي دے، دے خپله وينا ډيره ښه منسجموي .

**اتساق:** اتساق مانا هم فرهنګونو، نظم او ترتيب ورکول، منظم کيدل او همغږي کيدلو ته وايي ٖ همدارنګه جزالت هم د الفت صيب د نثر يو بل ښه خصوصيت دے .

**جزالت:**

مانا دا ده چي مفاهيم په ښکلو لازمو او مناسبو الفاظو کښي وړاندي شي، له**ګرامري اړخه** هم د يو ښکلي نثر له ځانګړنو يا خصوصياتو څخه يو خاصيت دے، همدارنګه د **لغتونو يا ويونو کارونه** او تر هر څه زيات به بيا **استدلال او منطق** د يو ښه نثر جاذب اړخونه دي، **اهنګ** د نثر لپاره هم د کلمو په جذابيت راڅرخي او د **لفظ او معنی تول** هم هغه څه دي چي يو نثر ته زينت وربخښي، **مضمون افريني** او يا په مضمون کښي د داسي مفاهيمو ځايول چي کشش ولري، **د ليکوال ګروهه او عقيده** د يو نثر لپاره په زړه پوري بحث دے.

**د الفت د نثر ژبه:**

د ليکوالی په ټيکنيکل اړخونو کښي يو هم ژبه ده، ژبه د مفاهيمو د ليږد راليږد وسيله ده او همدارنګه د وےيزو او اوريزو غږونو مجموعه ده، ژبه د يو لړ ترروني غږيزو او اوريزو پيلامو سيستم دے چي وګړي يې په خپلو منځونو کښي سره کاروي او د صوتي غږو په ذريعه باندې دا سيستم رغيدلي دے، ژبه د ليکوالی لپاره اړينه او ضروري ده ځکه کوم فکر چي په ليکوالی کښي وړاندي کيږي که ژبه يې په زړه پوري وي نو د ليک اهميت هم زيات وي، ليکوالي لکه له نامه يې چي معلوميږي ليک کول، د خپل فکر انځورول، د خپل زړه خبره کول او ليکل دي، ليک تر ليکه توپير لري هغه ليک هم ليک دے چي يو څوک يې خپل دوست ته په ښکلو او صميمانه الفاظو ليکي يو هڅيوالو د خپلو توکو ليست په خپله يادابنت تولګه کښي ليکي خو څه شي چي موږ پري بحث کوو ليک او ليکوالي هغه فن دے چي د هنر له خوږو ډک وي، د ليکوالی تخنيکي اړخونه له خوږلني سربيره هغه ارزښتناک توکي دي چي په ليکوالی کښي يې شته والي اړين او ضروري دے د بېلګي په توګه ژبني مسايل، ليک نښي، له تيروتنو ځان ژغورل او موضوع ته منطقي تړاو ورکول چي که مراعات نه شي ليکنه له تخنيکي او منطقي پلوه نيمګړي وي، الفت صيب دې ټکي ته ډير متوجي دے او داسي ژبه کاروي چي ساده او سليسه ده، رواني پکښي زياته ده، مغلق ويونه نه کاروي بلکې په ساده او سليسو الفاظو کښي لوستونکي ته معلومات ورکوي، ځيني ليکوال په ليکنه کښي له داسي دريځ او روحيي نه کار اخلي چي په لوے لاس يوه موضوع سختوي ښايي دغه ليکوال خپل لوستونکي په پام کښي ونه نيسي او ښايي دده دلچسپي هم دا وي چي لوستونکي ورته په يو لوړ موقف قايل شي، ليکوال بايد له خپلو لوستونکو سره خواخوږي ولري، خو دغسي يو ليکوال چي غواړي مشهور شي، پرته له شهرته ورسره نور څه نه وي، ليکوال بايد له داسي حالته ځان وژغوري، که يو مفهوم يا يو هدف په يوه کرښه ليکل کيدايشي، حاجت يې نشته چي په لسو کرښو کښي وړاندي شي.

الفت صيب له دې سره سره چي ښه ژبه کاروي په دوو جملو کښي يو مطلب وړاندي کوي چي دا دده د ښي ليکوالی يوه ښه ځانګړنه ده، چي د (هيرول) تر سرليک لاندې لنډ نثر يې ښه بېلګه ده :

(هغه څوک چي څه نشي هيرولي ښه سړے نه دے، څوک چي هميشه د بل د ملامتي خاطره له ځانه سره ساتي، د ښه زړه خاوند نه دے.)۲

الفت صيب چي په خپلو نثرونو کښي د نورو ويناوې هم راخيستي په داسي کلماتو او د هنر په داسي ژبه يې وړاندي کړي چي د خپل فکر سيوري يې پرې هم غوړولي دے، (تسلي) تر سرليک لاندې (د ژوند پانه زيره ده اوس تا تورو خاورو ته سپاري اې د خاورو اولاده ! مګر غم مه کوه ستا له خاورو نه به داسي يو نيالګی زرغون شي هر کال به نوي ګلونو نيسي او هر پسرلي به ستا په ياد عطر شيندي )، د ژبې خوږلني يې داسي ده چي لوستونکي ته خوند ورکوي .

د (خلک او شاعر) تر سرليک لاندې نثر يې ښکلي الفاظ او ښکلي ژبه لري،( يوه ورځ هغه لوے او پراخه ميدان، هغه لوړ اوچت غره وويل ستا په اوچولي کښي د ژوند نښه هيڅ نشته ستا پرمخ باندې هميشه د سيلو او بادونو څپيري لګيږي.

په همدغه وخت کښي د ولس خلقو شاعر ته وويل ستا سر و کار تل له خيال او انديښنو سره دے او ستا وجود هيڅ نه دے پکار، سنګين غره په ځواب کښي وويل: زه يم چي ستا له سيني هر راز بوټي راکارم، د غرمي سوځونکي تودوخه په خپلو ګوتو د واورو بڅري جوړوم او ذخيره کوم زما له سيني څخه د اوبو لښتي روانيږي او تاته د ژوند پيغام دروړي، شاعر هم خلکو ته وويل پريږئ چي زه سر په زنګانه کيږدم او فکر وکړم، ايا تاسي نه وينئ چي زما د زړه له چينې نه ډيري خوږي اوبه راخوټيږي چي د بشر تنده ماتوي،).۳

که د الفت صيب دې ښکلو او شاعرانه الفاظو ته ځير شو نو په دغسي يوه ادبي ټوټه يا تکل کښي يې څومره له مفاهيمو ډکه خبره کړي ده، دلته دے د شاعر د زړه له چينې نه د احساس کومې راخوټےږي له هغو اوبو سره پرتله کوي چي د غرونو له چينو راوځي، هغه اوبه که طبيعت ښکلي کوي خو د شاعر له فکر او احساس نه چي کوم څه راڅاڅي هغه ګرانقدره سرمايه بولي چي د هنر پالو د هنر تنده ماتوي.

**د الفت په نثر کښي د کلمو خوږوالي:**

ليکوالي لکه څنګه يې چې له نامه نه معلوميږي ساده ليکل نه دي ليکوال هغه څوک دے چې د يو احساس له مخې قلم خوځوي، دا قلم خوځول يا کارول له هره پلوه وړتيا غواړي، لومړے که يو څوک يوه ليکنه کوي د فکر، احساس او عواطفو خواږه به پکښې وي، د ليکنې لپاره به يوه سوژه ولري تر څنګ يې د الفاظو ذخيره او لوړ فکري قوت نه برخمن وي، همدارنګه به د ژبې په مهارتونو پوه وي څکه دا ټول هغه څه دي چې په نشتوالي کښې يې يو څوک نه شي کولاي چې يوه ښه ليکنه وکړي.

ليکوالي کول يا څه ليکل د هوش او فکر کار دے، د ليکوالی د پراختيا لپاره هغه مهال ښه زمينه برابريداي شي چې هم په ټولنه کښې ورته خام مواد موجود وي او هغه مواد بيا د يوې ليکنې په چوکاټ کښې راوستل او نورو ته يې وړاندې کول ښه زمينه برابرولاي شي.

افغاني ټولنه چې د دردونو او نا خوالو توپانونو پرې تير شوي د ليکوالی او ژورنالیزم په برخه کښې پراخه مواد لري څکه ددې ټولنې هره ناخواله د قلم پر مټ نورو ته وړاندې کيداي شي، هغه يو متل دے چې : ( که کوټه وسوځي، نو ديوالونه يې پخيږے)، زمونږ ټولنې چې څومره ناخوالې ليدلې د همدغو ناخوالو پر مټ زمونږ ليکوالي غنې کيداي شي او غنې شوې ده، څکه همدغه مواد دي چې شاعر او ليکوال يې په خپلو ليکنو کښې را اخلي او سوژې ترې ټاکي، خو دا هر څه د ليکوالی په تخنيکي چوکاټ کښې که وړاندې شي نو د ټولنې ريښتيني انځور وړاندې کولی شي.

**په لیکنه کښې له تېروتنې ځان ژغورل**

ځینې وختونه لیکوال په لیکنه کښې له یو داسې درېځ او روحیې نه کار اخلي چې په لوے لاس یوه موضوع سختوي، ښایي دغه لیکوال خپل لوستونکي په پام کښې ونه نیسي او دده دلچسپي هم ښایي دا وي چې لوستونکي ورته په یو لوړ موقف قایل شي. لیکوال باید له خپلو لوستونکو سره خواخوږي ولري خو دغسې یو لیکوال چې غواړي نوم یې ډېر مشهور شي پرته له شهرته ورسره نور څه نه وي، لیکوال باید هڅه وکړي چې له داسې یو حالت نه ځان وژغوري، که یو مفهوم یا یو مطلب په یوه کرښه کښې وړاندې کیداې شي دې ته یې حاجت نشته چې لسو کرښو یا لسو پراګرافونو کښې وړاندې شي.

ځینې وختونه لیکوال په داسې موضوعاتو پسې ګرځي چې یا مبتذل وي او یا هم د لوستونکي لپاره خاص په زړه پورې والې نه لري، نو لیکوال باید هڅه وکړي هغه موضوع د لیکنې لپاره غوره کړي چې لوستونکي او مخاطب یې ترې غواړي.

بل دا چې لیکوال باید خپل لوستونکي او اوریدونکي په پام کښې ونیسي چې پوهه او معلومات یې په کومه کچه کښې دي بیا ورته لیکنه وکړي، که چېرې موږ یوه ادبي مقاله لیکو هدف مو ترې لیکوال وي نو ژبه یې باید ډېره ادبي او هنري وي، ځکه زمونږ مخاطبین د ښه ذوق څښتنان دي.

ددې ترڅنګ په دې باید فکر وکړو چې هغه څه چې موږ یې د لیکنې لپاره غوره کوو باید یوه تلپاتې موضوع وي نه چې په لنډ وخت کښې خپل ارزښت له لاسه ورکړي .لیکنه باید لیکوال ژوندے وساتي نه چې لیکوال مړ کړي که موږ د ادبیاتو تاریخ ته پام وکړو داسې لیکوال او شاعران به په تاریخ کښې ووینو چې نن زمونږ په منځ کښې نشته خو لیکنې یې زمونږ په منځ کښې ژوندۍ دي او د همدغو لیکنو پرمټ لیکوال ژوندے پاتې شوي دي، نو له موسمي لیکنو باید ځان وژغورو او لیکنې ته داسې رنګ ورکړو چې پیغام یې نن هم پر ټولنه مرتب وي او راتلونکي کښې هم خپل اغیز ولري.

کلیشه یې جملې هغه څه دي چې ډېر کله لیکنه بې خونده کوي باید لیکوال ترې ځان وژغوي . استاد اسد الله غضنفر دادب او کلیشې رابطه دلیوه او میړې رابطه بولي او ټینګار یې دا دے چې دنویو او حسي تجربو دانتقال لپاره دکلمو په منځ کښې نوي تړاوونه باید موجود وي چې دفکر خیال او احساس دنیا لا رنګینه کړي .۴

ساده والي هم دلیکنې لپاره یوه لویه ښکلا او ښیګڼه ده، په لیکنه کښې باید نا مانوسي کلمې، تکراري الفاظ او مغلق عبارتونه او جملې را نه وړل شي، ځکه چې په لوستونکي بد اغېز کوي او له لیکنې یې زړه توریږي .

دښې ژبې، او نویو لفظونو، ښه منطقي استدلال تر څنګ دنوښت خواږه هم ډېر رول لري . لیکوال باید هڅه وکړے چې ځان له ابتذال نه وژ غوري ځکه دا هغه څه دے چې دلیکنې خوند له منځه وړے .

**څه ډول یې ولیکو؟**

تر ټولو ښه خو دا ده چې لیکنه مو ساده وي، دارتیا په بنیاد وي او بې ځایه لفاظي او نامانوسي کلمې او جملې ونه لري . څنګه چې موږ یوه جمله په شفاهي ډول وایو که په هماغه ښه ولیکل شي نو ډېره به اسانه وي او هیڅ پیچلتیا به ونه لري دبېلګې په توګه که موږ ووایو چې:( په کور کښې وړه شتون لري ) فکر کوم دا زمونږ دوېنا جمله نه ده په لیک کښې هم ښه نه برېښي که ووایو ( په کور کښې وړه شته ) دا زمونږ ورځنۍ محاوره ده که ولیکل شي ښه برېښي یا (دیوې غونډې په ترڅ کښې یې داسې وویل ) که ولیکل شي ( په یوه غونډه کښې یې داسې وویل )

په لیکنه کښې باید ژبنې اړخ ته ډېر پام وشي ګرامري قواعد او اصول هم په پام کښې نیول ضروري دي .

لیکوال هر څه چې لیکي باید په ژور نظر ورته وګوري هیڅکله یوه سطحي لیکنه ونه کړي له ټولنیزو پیښو نه باید یو ژور برداشت ولري ځکه لیکوال او دټولنې عادي وګړي سره توپیر لري . دلیکوال لیکنه باید، دټولنې ژوروته ښکته شي او داسې مسایل په کښې را واخیستل شي چې دټولنې لپاره بنیادي ارزښت ولري . لیکوال باید لیکنه په مسولانه ډول وکړي، نه په داسې ښه چې حقایقو ته په کښې پام نه وي شوے او یو سلیقوي چلند په کښې شوے وي . هر لیکوال باید دخپلې لیکنې لپاره یو منظم پلان باید ولري . منظم پلان لیکوال هدف ته رسوي پلان دژوند اصلي مسیر او لاره په نښه کوي او مقصد ته یې رسوي .۵

**د ښو، خوږو هنري کلمو او جملو کارول**

د خوږو هنري کلمو کارول لیکنې ته یو هنري ارزښت ورکوي، کله چې یو عبارت، یوه جمله او یا یو پاراګراف په ښو الفاظو کلمو رنګین شي، د لوستونکي په روح او روان ښه تاثیر کولی شي.

که یوه جمله داسې وي چې : (لمر سترګه ولویده)، یا (د لمر سترګه له غرونو پنا شوه) دا یوه هنري جمله نه ده خو که داسې ولیکل شي چې : ( لمر ورو، ورو خپلې زرینې او تودې وړاندې راټولې او د لمر سترګې د تیارو غیږې ته پناه یوړه.) نو وروستۍ جمله به په لږو ښو الفاظو لیکل شوې وي او هنري ارزښت به ولري.

یا که چېرې موږ یوه جمله داسې لیکو چې : (احمد چې په ژورنالیزم کښې ډېر کار کړے )، یوه سولیدلې جمله ده چې ښایي په زړه هغسې منګولې ونه لګوي، خو که موږ ولیکو چې : ( احمد چې د سر تور وېښتان یې په ژورنالیستیک چوپړ کښې سپین کړي.) یوه هنري جمله ده چې په لوستونکي ښه اغېز کوي، یا دغه جمله چې : (د دواړو د ځوانۍ د بڼ لپاره

لاسونه لپه کوم ) د لاسونو لپه کول د دعا لپاره یوه ښایسته کنایه ده چې دواړې کلمې یې په (ل) پیلیږي او دغه موسیقي یې خوند لا زیاتوي.۶

د ښو، خوږو او هنري جملو د کارونې لپاره ضروري ده چې لیکوال د ښې هنري مطالعې خاوند وي، د الفاظو ښه زیرمه ولري او د خپل ذوق پر مټ وکولی شي په لیکنه کښې هنري جملې وکاروي ددې لپاره له لیکوال سره د تخیلي ځواک پیاوړتیا هم مرسته کولای شي، ځکه د لیکوال په لیکنه باندې همداسې یو ځواک جوت اغیز لري د ډیرو په باور تخیلي ځواک د یو ښه نوښت تومنه ده او څومره چې د لیکوال یا شاعر د تخییل قوه پیاوړې وي په هماغه اندازه یې د ابتکار او نوښت قوت هم زیات وي، کله چې د تخییل له قوت سره د لیکوال پوهه او ذهني تصویر مل شي نو لوړ تخلیقي او ادبي اثار پنځوي، په دې برخه کښې د هنري اثارو مطالعه لوړ اغیز لري.۷

**په هنري ادبي اثر کښې د هنري ترکیبونو کارول**

هنریت یا هنري ارزښت هغه ځانګړنه ده چې ادبي، او نورې عامې لیکنې سره جدا کوي د هنري نثر په پنځونه کښې د لیکوال ذوق، احساس او تمایل د یو مطلب یا واقعیت د افادې لپاره بنسټیز ارزښت او اهمیت لري، ځکه لیکوال هغه څه چې لیدلي، اوریدلي، احساس کړي او یا یې په ذهن او خیال کښې تیریږي بیانوي.۸

د ادبي یا هنري اثر په پنځونه کښې تخییل ستر نقش لري د همدغه تخییل او فکري ځواک په ملتیا باید د یوې هنري لیکنې لپاره داسې هنري ترکیبونه وکارول شي چې لیکنې ته ښکلا او ځلا ورکړي، د بیلګې په توګه :

(د لمر پیغله، د غربت زیړې نیولې )

دا دواړه هنري ترکیبونه دي د ښکلا او ښایست سمبول دے او د غربت زیړے یې ناداري ده، د کاروان صیب د همدغې قصیدې د یو بل نیم بیتي ترکیب هم ډیر ښکلي دے:

د تناکو په پنو کښې مو سفر دے

د تناکو پنې یو ښه ترکیب دے، یا د همدغې قصیدې په یو بل نیم بیتي کښې وایې:

پر ګلونو باروتي خپسې ناستې

باروتي خپسې هم ښکلي ترکیب دے یا د زخم سور ځادر دا هم یو ښکلي ترکیب دے.۹

کله چې مونږه په یوه هنري نثر کښې منظرکشي کوو دغه منظرکشي هم د ښکلو ترکیبونو پر مټ کیږي، یا دا جمله چې ( نوره لکه چې د هغه په سترګو کښې د اوښکو چینه ختمه شوې وه، ځکه یې سلګۍ وهلې خو اوښکښې یې نه بهولې.)۱۰

نو په پایله کښې ویلی شو چې په هنري ادبي اثر کښې د هنري ترکیبونو کارول اثر ته په زړه پورې والي او ښکلا وربخښې.

**په لیکنه کښې د غوره وینااوو او وجیزو کارول**

هنري نثر په ښکلو وجیزو، غوره وینااوو، متلونو او په هغو قوي او ځواکمنو خبرو قوت مومي چې د ولس په شفاهي ادبیاتو کښې موجود وي هر څومره چې دغه وینااوې په نثر کښې وکاریږي ښکلا یې زیاتیږي، ددې ترڅنګ شعر هم کله چې په نثر کښې کاریږي د لیکوال الفاظ پیاوړي کوي، احساس یې تخنوي او په اسانۍ کښې سره کولی شي چې خپل ذوق د تولنې له ذوق سره غاړه غړۍ کړي، شعر او یا نورې برجسته وینااوې په لیکنه کښې لیکوال د سوقه والي په موخه هم راوړي دا ځکه چې شعر د ژوند ډیر تولنیز او مهم اړخونه رانغاړي.

موږ غواړو چې په تولنه کښې د احساس په ارزښت خبرې وکړو، نو دغسې یو شعر زمونږ لیکنې ته لا قوت ورکوي.

متلونه او وجیزې لکه :

غر په غر نه ورځي، انسان په انسان ورځي

که غر لوړ دے په سر یې لار ده

یا خپل عمل د لارې مل دے

دا هغه غوره وینا یا ملتونه دي چې به لیکنه کښې راوړل یې لیکنه ښکلي کوي او قوت وربښې .۱۱

د پورته بحث په رڼا کښې چې کله مونږه د الفت په شاعرۍ بحث کوو نو تول هغه توکي که هغه د کلام خوږلنې ده، که اوچت پیغام دے او که نور ارزښتمند توکي دي د الفت په نثر کښې ځاے لري.

الفت چې کله هم د قلم له څوکښې د نثر خواږه څڅولي دي نو په خورا لوړه قریحه او په ځانګړي انداز یې لیک کړے دے، دده د نثر ژبه دومره خوږه ده چې هر لوستونکي یې په خاص خوند سره لولي او ښکښه یې دا ده چې مفاهیم په ډیرو لنډو جملو او کلمو کښې وړاندې کوي او له الفاظو سره اصراف نه کوي، د استاد نثر د ادبي صنعتونو خواږه هم لري، تلمیحات یې په نثر کښې ډیر کارولي، تشبیح خو دده د نثر یوه خاصه برخه ده او د فکر ژوروالي بیا د استاد الفت د نثر یوه لویه خاصه ده، دہ تل کوشش کړے چې په ښکلي انداز کښې د خپل نثر له خوږو نه لوستونکي برخمن کړي، دده هم مهالي او د پښتو ادب بل ستوري استاد پوهاند صدیق الله رښتین د الفت صیب د نثر په اړه داسې نظر لري : ((الفت ښه ادبي نثرونه لیکلي دي، دده په نثرونو کښې نوے والي، رنګیني او ادبي ښایست زیات دے، دے یو ساده مضمون ته هم یو

ادبي رنګ ورکولي شي او په دي برخه کښې استاد دے، تخیيل يې قوي دے او په نثر کښې يې ادبي خوا غالبه ده، د عبارت او جملو په ښایسته کولو کښې غښتلي دے، پخواني نثرونه يې اصلاحي او انتقادي روح هم لري، الفت په خوله دومره څه نه وايي مګر د قلم ژبه يې ډيره تيزه او غښتلې ده .))۱۲

که موږ زياتره هغه توکي چي بحث مو پرې وکړ او ترې وروسته په ابتکار، تخيیل، ذوق، حافظي او احساس بحث دے په دي ټولو کښې د الفت دومره برلاسي دے چي په خپل نثر کښې دي ټولو ته په ښه شکل ځاي ورکړے دے، همدارنګه که د شکل له مخکښې چي وړاندي مو لړه يادونه کړي وه د الفت نثر وګورو نو دے د استاد محمد اسمعيل يون خبره چي د الفت د نثري کلياتو په سريزه کښې يې کړي: ((په شکلي لحاظ الفت غواړي خپله د خپل فکر ملغلره د عاطفي په اوبو ومينځي او د ساده عام فهمه او روانو کلمو په لوپټه کښې يې تاوه کړي، هغه ساده ګي يو صفت ګڼي، له تکلف، تصنوع او ځان جوړوني څخه خپله لاره بېلوي . ۱۳

همدارنګه استاد الفت د نثر د جولي يا شکل په بحث کښې خپل نظر په څه داسي الفاظو وړاندي کړے دے : ((هغه انشا چي ډيري پرېړي په کښې وي او ډيره خلا ولري يعني لکه رعد و برق ځليدل او غريدل يې زيات وي د ليکونکي عجز او تصنوع ښيي، دا راز هنر ښوودنه د واعظانو کار دے، په شعر او ادب کښې ساده ګي لوے صفت دے نه کاکتوب او تنطراق څومره چي د چا فکري او معنوي پانګه زياته وي، همغومره يې سبک ساده او روښانه وي، مغلق او پيچيده ليکل غالباً د ليکونکي د علمي او معنوي فقر څخه پيدا کيږي، هغه څوک چي د عبارت په ډول په سينګار پسې ډير ګرځي او له لفاظۍ څخه ډير کار اخلي، خپل معنوي فقر د الفاظو په برق او ذلق کښې پټوي))۱۴

الفت صيب د ساده نثر خوښوونکي دے چي د تکلف نه پاک وي، خو ددي معنی دا هم نه ده چي الفاظ دي دومره کمزوري او بې مفهومه وي چي موږ يې ساده وبولو او په واقعيت کښې ښکلا او مفهوم په کښې نه وي، يواځي داسي الفاظ وي چي جملي سره تړلي وي او نور په زړه او ذهن بد لګي .

که د الفت صيب نثرونو ته وګورو، نو ساده ګي په کښې له ورايه معلوميږي، لنډې جملي کاروي هره يوه جمله يې بشپړه ده، ښه اهنګ لري، ښه منظرکشي او له تصويرونو ډک دے، ژبني او ګرامري پلوه هم له ژونډي نثر لوړ نثر دے، هغه د انځور صيب خبره چي : (( د ادبي ټوټو، شعري او ادبي طرحو او همدارنګه د داستانونو لنډو طرحو نموني ليدل کيږي .))۱۵

**لوستونکي ته قناعت ورکول:**

استاد ګل پاچا الفت په خپل نثر کښې دا هڅه کوي چي له داسي منطق او استدلال نه کار واخلي چي لوستونکي پرې قانع کړي او ددي لپاره دے هغه دلايل راوړي چي مخاطب يې پرې باور ولري، الفت صيب په يو نثر کښې چي د زوړ فکر ترسرليک لاندي دے په دې تړاو داسي نظر لري: (سترګي يې مه خلاصوئ، کوم ښکلي مخ به ووينې، ميخانه به وګوري، مست به شي، ځان به ووينې خودبين به شي... پخوا له وخته دده سترګي مه خلاصوئ دے بايد هر څه په پټو سترګو قبول کړي او سپين ږيري نه شي دے بايد هر څه د زړه په سترګو وګوري او د سر سترګي يې تړلي وي .)۱۶

په دي نثر کښې په انتقادي نثر الفت خپلي تولني ته ګوري، زوړ فکر په استدلال برسېره کوي او وروسته مخاطب په اشاروي ښه په دي باوري کوي چي، زوړ فکر بايد په نوي فکر بدل شي .

**د مطلب وضاحت**

د الفت صيب د نثر يوه بله ستره ځانګړنه دا ده چي په هره جمله کښې پوره مطلب وړاندي کوي، په الفت صيب کښې دا کمال دے چي ډير لوے مفهوم په يوه جمله کښې څرګندولي شي، که د هغه نثر ته ځير شو نو وبه ګورو چي په ډيرو لنډو جملو کښې دومره لوے مفهوم وړاندي کوي چي دا کمال په نورو ليکوالو کښې ډير کم دے يا نشته، د عمل په نوم يوه نثري ټوټه کي يي ددي مفهوم ښه څرګندونه کوي: (( د دنيا بازار ته ډير ړانده راځي او څه اخلي، دوکانداران د هغوے په سترګو کښې خاورې اچوي او پردي مالونه ورکوي، ده غوندي ډېر ړانده دلته راځي او هغه څه وړي چي د وړلو نه دي، هو ! د ړندو عمل همداسي دے، مګر ړوند نو د دې نه زيات څه کولی شي؟ ړوند که په سمه لار لاړ نه شي بايد معذور يې وګڼو. ۱۷))

الفت صيب نه يوازې په پورته څو جملو نثر کښې يوه حکيمانه خبره کړي مګر که هر نثر يې وکتل شي د ډيري لوړې مانا او مفهوم نه ډک دے، وضاحت يې په الفاظو کښې بيخي زيات دے او د ښه مطلب څرګندول يې د هنري نثر يوه په زړه پورې خاصه ده.

**د الفت په نثر کښې تلوسه**

سسپنس يا تلوسه ذهني هڅونه ده چي نه يوازې په کيسه يا هنري نثر کښې بلکې په زياترو ادبي ټوټو او ليکنو کښې لازمي او اړين توکي دے، د ليکوال لوے مهارت دا وي چي پيښه په داسي ښه او الفاظو راونغاړي چي د خپل فن په مهارت لوستونکي يا اوريدونکي د لوست او اوريدو پرمهال په يو ډول ذهني او فکري هڅونه بوخت کړي او د قيصي په باب يې شوق او ذوق زيات کړي او راتلونکو کړنو په اړه يې لا نوره ليوالتيا پيدا کړي. ۱۸

استاد ګل پاچا الفت هم خپل نثر په داسي شکل ليکي چي لوستونکي قدم په قدم په لېوالتيا سره له ځانه سره بوځي او لوستونکي پرينږدي چي په نيمه لار کښې يې نثر پريږدي، د الفت صيب په نثر کښې دا برخه ډيره بارزه ده، دے په يوه نثر کښې چي د عجيب انسان تر سرليک لاندي دے تلوسه په ډير ښه شکل وړاندي کوي او لوستونکي له ځانه سره اخلي .

(ړوند نه دے مګر خپل عيبونه نهويني، کوڼ نه دے مګر خپله اوري او د بل نه، زړه لري زړه سوے نه لري.... له عقله پياده دے مګر هيڅکله پلي نه ګرځي او په موټر کښې هم د خپل جهل په خره سپور وي، ته به وايې دا څوک دے ؟ زه وايم : بې پوهي زورور ).١٩

**د الفت په نثر کښې نوښت**

ګل پاچا الفت په خپل کتاب ليکوالي، املا او انشا کښې د يوې ښې انشا په باب څرګندوني لري زياتوي : د انشا فن او ليکوالی هنر دا دے سړے خپل مطلب په صحيح ډول ادا کړي او څه يې چې په زړه او ذهن کښې وي په ښو الفاظو يې د ژبې له قانون سره سم په معاصر ډول په فصاحت او بلاغت په اصولو برابر بيان کړي، د ښو کلماتو انتخابول او د الفاظو ښه تاليف د انشا مهمه برخه ده، يو شاعر او اديب سربېره پر دې چې بايد د کلماتو په ښنبلولو او استعمالولو ښه پوه وي بايد دا قدرت هم ولري چې نوي افکار او نوي معاني هم پيدا کړي او ښکلا پکښې واچوي . ٢٠

ښاغلي الفت په نثر کښې د ابتکار اساس او بنياد ايښی دے، دے چې هره موضوع بيانوي نو د ابتکار خواږه په کښې وي، دے په ډير نوي انداز خپل مفاهيم او مطالب لوستونکي ته رسوي، زړو مضامينو ته هم نوے رنګ ورکوي او ډيرې عادي ييښې هم د ابتکار په رنګ رنګوي، د بېګناه بندي نثر يې د ابتکار يوه ښه بېلګه ده چې وايي : ( پريږدئ دا بيګناه بندي، پريږدئ، مه وريږئ، د ده په ازادولو کښې هيڅ خوف او خطر نه شته، فساد او شرارت له ده نه، نه پيدا کيږي، دده بندي کول لويه ګناه ده، دا هغه يوسف دے چې د بې ګناهی په سبب زندان کښې لويدلې، دده په ازادی باندې علم او پوهه زياتيږي، وطن رڼا کيږي، ړانده بينا کيږي، ښه فکر وکړئ دا بندي څوک دے؟ پس له ډير فکره وايم ! فکر دے، فکر دے.)٢١

الفت صيب په پورته نثر کښې عجيبه استدلال کوي، يو خو پکښې کښې يوه تلوسه پرته ده چې لوستونکي تر اخره پورې له ځانه سره وړي، بل دے فکر د يوسف (ع) سره ورته نه بولي بلکې مطلق ورته د يوسف خطاب کوي پدې نثر کښې يو ډول تلميح هم وجود لري، څکه د يوسف (ع) کيسي ته پکښې اشاره ده، يوسف (ع) هم چې هغه مهال د مصر په زندان کښې پروت وو خو د يو فکر خاوند وو او کله چې پاچا خوب وليده او د تعبير لپاره چې شا او خوا خلکو ده ته وړاندې کړ نو هغه خوب يو ښه تعبير يې وکړ، کله چې يوسف (ع) له بنده وځي، نو د خپلو ورونو او خلقو لپاره پراخه خوراکي توکي هم برابروي او ترڅنګ يې هغه بوے چې د يعقوب (ع) په سترګو ولګيد نو سترګي يې بينا شوې، او کله چې يې د مصر نه دا بوے استشمام کړ نو يې سترګو ديد پيدا کړ .

(د الفت صيب په نثر کښې په جمله کښې د هرې کلمې طبيعي ځای ته ډير پام کيږي اکثره ليکوال د نثر د اهنګ په خاطر يا د تاکيد په خاطر په جملو کښې د کلمو طبيعي ځاي بدلوي رابدلوي، خو دے تر وسه وسه په جمله کښې کلمې له خپله ځايه نه خوځوي).٢٢

**د الفت په نثر کښې ايهام**

په بديعي صنعتونو کښې يو خورا مهم او په هنري لحاظ ارزښتناک صنعت ايهام دے، په پښتو ادب کښې شايد بل هيڅ شاعر او ليکوال د استاد الفت په اندازه د ايهام د کورنۍ صنعتونو ته توجو نه وي کړي، دده په اثارو کښې د ايهام د کورنۍ دومره ډيرې او کاميابي کورنی پيداکيږي، چې که يې څوک راټولې کړي رسالې به تري جوړې شي، کله که ليکوال يوه خبره وکړي خو دوه مقصدونه ورنه ولري نو موږ وايو چې په خبره کښې يې ايهام دے، په هغه کلمه کښې چې ايهام وي، د کلمې په نزدې معنی پسې د دويمې او لا هنري معنی موندل د ناڅاپي کشف خوند لري او خيال او فکر ورسره تازه کيږي. استاد الفت ددې صنعت دومره ډير ليوال دے چې ان په خپلو بشپړو معلوماتي نثرونو کښې هم کار ورنه اخلي، مثلاً دوے د منطق په نوم د خپلې رسالې سريزه داسي پيلوي: ((دا رساله د زاړه متن په اساس ليکل شوې ده، مګر له زړو کتابونو نه فرق لري، کوم د منطق کتاب چې طالبان يې لولي ځينې پکښې داسي هم شته چې، منطق پکښې ډيره لږه برخه لري او په نورو خبرو پاني پکښې ډکې شوي دي.))٢٣

ددې لپاره چې د استاد الفت د کلام لږ وضاحت هم وکړو چې دے کله کله د ده نثر له يوې جملې څو مفهومه راخيستل کيداي شي، چې په هغه کښې يو هم دده له نثر نه نزدې معنی ده، الفت صيب په دې برخه کښې بلکل له عامي محاورې سره په خپل نثر کښې نرديوالي راولي، د بېلګې په توګه موږ وايو : (داسي کار مکوه، سبا به پښيمانه يې دلته له سبا نه موخه يا هدف مياشت، کال يا کلونه وروسته وخت دے )، دده په يو نثر کښې هم ورته مفهوم په دې الفاظو راغلي دے .: ( د خرما زړے په ځمکه کرل او د خرما له ونو نه خرما ټولول، د هغو کسانو کار دے چې سبا ته اميدونه لري او د نن ورځې په تنګه دايره کښې نه حسابيږي.).

ښاغلي غضنفر د استاد الفت د همدغه نثر په شننه کښې ليکي چې : دلته (سبا) هم راتلونکو کلونو ته اشاره ده او هم قيامت رايادوي، څکه خرما ياده شوې ده، دغه راز (اميدونه ) هم د قيامت په ورځ اجر ته هيله کول رايادوي او هم په قيامت باندې د باور لرلو ضمني معنی پکښې پرته ده.٢۴

**ظرافت او باريکي:**

ظرافت او باريکي هم د استاد الفت د نثر سبکي خصوصيات دي، لکه څنګه چې د هر شاعر او ليکوال خپل سبک وي او په يو ځانګړي طرز او اسلوب خپل مفاهيم وړاندې کوي، الفت هم د خپل ځانګړي سبک پر مټ وينا ظرافت او لطافت ته ډير متوجه دے الفاظ ډير ظريف او باريک کاروي، ډير کله د الفت صيب ظريفي او باريکي وينا په مفاهيمو کښې بلاغت او فصاحت پيدا کړے دے، استاد الفت ډير موضوعات په ډير ظريف ډول وړاندې کړي دي د عقيدې په نوم يو نثر يې د

ظریفې او باریکښې وینا یوه ډیره ښه بېلګه ده : (( په سترګو یې څه نه لیدل مګر د خدا ے کتاب یې ترځنګ وو او مسجد ته راغي، ده هغه اسماني کتاب په تاخچه کښې کیښود او په لمانځه ودرید، کله چې له عبادت نه فارغ شو او له مسجد نه روانیده هغه کتاب پاتې شو او یو بل کتاب یې لاسته ورغي، دے ړوند وو کتاب یې نه لیده او په کتاب نه پوهیده، مګر ډیر ټینګ یې په غیږ کښې نیولي وو، ده ته دا نه وه معلومه چې په کتاب کښې څه دي او د چا کتاب دے، له ده سره ټینګ عقیده وه مګر پوهه او بینایي ورسره نه وه، ده د خداي لپاره دغه کتاب ښکلوه او لکه تعویذ یې له ځان سره ګرځوه.)۲۵

الفت صیب په پورته نثر کښې عقیده په ډیره باریکه ښه تشریح کوي، هغه د ړانده عقیده په داسې شکل وړاندې کړې ده چې ګواکښې هر څه په پټو سترګو مني، الفت صیب ډیر ځیرک لیکوال دے او د ټولنې هغو مسایلو ته متوجه دے چې، زمونږ په ټولنه کښې موجود دي. هغه یو متل دے چې پښتانه په قران سره ورکوي خو سره پرې نه خلاصوي همدا مفاهیم، الفت صیب په زشته ژبه نه بیانوي د خوشحال غونډې نظر نه لري چې پښتنو ته په قهر او غوسه شي او دوے داسې ناپوهه او کمعقل وګڼي چې خوشال ګڼلي دي، بلکې دا یې په دومره عاطفي انداز یادوي چې ناپوهي یې په ډاګه کوي، زمونږ اوس مهالي ځینې لیکوال هم له همداسې باریکو الفاظو او عاطفې نه کار اخلي.

**په هنري بڼه د مفهوم وړاندې کول:**

الفت صیب د مفاهیمو په وړاندې کولو کښې له خورا زیات هنره کار اخلي، چې دا د الفت صیب سبکي خصوصیات دي، دده په نثرونو کښې داسې ځانګړنې لیدل کیږي چې مفاهیمو ته هنري رنګ ورکوي او موضوع په داسې شکل وړاندې کوي چې لوستونکي راجذب کړي، د ژوند په نامه په یوه نثر کښې لیکي چې : (د یوې چینې اوبه دي، څوک یې د زرو په جام کښې څښي، څوک یې د خاورو کنډولي کښې هغه چې نه دا لري نه هغه، په لپه کښې یې را اخلي په اوبو کښې هیڅ فرق نشته، فرق په لوخو کښې دے، د شا او ګدا فرق په لوخو کیږي. )۲۶

په دې نثر کښې هم د ژوند معنی له چینې سره تشبه کوي، یعنې څوک یې په خوشالۍ تیروي چې د ژوند له ټولو نعمتونو نه برخمن وي او چاته بیا په ژوند کښې دا نعمتونه میسر نه وي، د شا او ګذا د ژوند د توپیر په اړه هم همدا قیصه ده چې شاهان د ژوند له ډیرو نعمتونو نه برخمن وي او ګدایان یا فقیران بیا د ژوند له دغو نعمتونو نه بې برخې دي، ښایي ځینو لیکوالو همدغه توپیرونه په ډیرو داسې الفاظو کښې وړاندې کړي وي چې هنریت ونلري مګر د الفت صیب دغه نثر له یوه طبیعي هنر نه چې یوه ښه منظرکشي پکې ده او یو ښه تصویر وړاندې کوي.

# References


1. Ulfat, Gul Pacha, Lekwali Emla aw Insha, lomray chap, Kabul, Pashto Tolana, (1329), p 49.
2.Ulfat, Gul Pacha, da Ustab Gul Pacha Ulfat Nasri Kuliat, da Muhammad Ismail Yoon pa ziar, Kabul, Danish khparndoya tolana, 1387, p 48 1.
3.hamda Asar, P (484).
4.Ghaznfar, Asadullah, Da Nasr Lekalo Hunar, Jalalabad, Momand Khparandoya Tolana, (1394), P 88.

5. Zgham, Ahmad shah, Masara Lekwali, Kabul, Da Afghanistan Mili Tahrek Parhangi Sanga, (1394), P 74.

6. Ghaznfar, Asadullah, Da Nasr Lekalo Hunar, Jalalabad, Momand Khparandoya Tolana, (1394), P 262.

7.Hashimi, Mohaudin, Sarmohaqiq, Da Lekwalai Hunar, Jalalabad, Maihan khparandoy Tolana, (1395), P 13.
8.hamda Asar, P (89).

9.Karwan, Per Mohammad, Chenar Khabari kawy, Peshawar, Danish Khparandoy Tolana, (1381), P 47-48.

10.Anzoor, Mohammad Zarin, Da Sarona Da Rasmoona, Kabul, Daulati Matboa, (1363), P 62.

11. Zgham, Ahmad shah, Masara Lekwali, Kabul, Da Afghanistan Mili Tahrek Parhangi Sanga, (1394), P 79.

12.Bajawray, Barialai, Da Pashto Adabiato Masar Tarikh Da wekhtia Paraw, jahan Danish Khparandoy Tolana, (1399), P 37.

13. Ulfat, Gul Pacha, da Ustab Gul Pacha Ulfat Nasri Kuliat, da Muhammad Ismail Yoon pa ziar, Kabul, Danish khparndoya tolana, 1387, p 7.

14. Ulfat, Gul Pacha, Lekwali Emla aw Insha, lomray chap, Kabul, Pashto Tolana, (1329), p 41.

15. Anzoor, mohammad zarin, Da ulfat Sher mo khwakh dy ka nasar?, Kabul, Qawmono aw qabailo Charo wazarat, (1361), P 60.

16. Ulfat, Gul Pacha, da Ustab Gul Pacha Ulfat Nasri Kuliat, da Muhammad Ismail Yoon pa ziar, Kabul, Danish khparndoya tolana, 1387, p 59.

17.hamda Asar, P (63).

18.Miakhil, Babrak, Lekwali, Jalalabad, Khatiz Khparandoy Tolana, (1396), P 154.

19. Ulfat, Gul Pacha, da Ustab Gul Pacha Ulfat Nasri Kuliat, da Muhammad Ismail Yoon pa ziar, Kabul, Danish khparndoya tolana, 1387, p 189.

20. Ulfat, Gul Pacha, Lekwali Emla aw Insha, lomray chap, Kabul, Pashto Tolana, (1329), p 37.

21. Ulfat, Gul Pacha, da Ustab Gul Pacha Ulfat Nasri Kuliat, da Muhammad Ismail Yoon pa ziar, Kabul, Danish khparndoya tolana, 1387, p 72-73.

22. Ghaznfar, Asadullah, Da Nasr Lekalo Hunar, Jalalabad, Momand Khparandoya Tolana, (1394), P 301.

23.hamda Asar, P (310).

24.hamda Asar, P (311).

25. Ulfat, Gul Pacha, da Ustab Gul Pacha Ulfat Nasri Kuliat, da Muhammad Ismail Yoon pa ziar, Kabul, Danish khparndoya tolana, 1387, p 63.

26. hamda Asar, P (3).

Pukhtunkhwa Journal